پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۹/۰۱/۲۹

# «وياړلي»

## (په پښتو ژبه باندې د څه ليکونکو قلموالو يوه ډيره بدايه تذکره، خو...)

### نوی چاپ شوی کتاب


بسم الله الرحمن الرحیم

ويـــــاړلي؛ لومړی ټوک

د پښتنو ليکوالو، شاعرانو او نورو پښتو پېژندونکيو ليکوالو د پېژندنې لاربود

ليکوال: ډاکټر عبدالرؤف رفيقي

+92 (0) 333 781 77 68

abdulraufrafiqui@yahoo.com

8-21/220-221 Kasi Road- Quetta.

خپرندوی: د افغانستان ملي تحريک

او د ډاکټر رفيقي خپرنيز مرکز

کمپوزران: بسم الله خيالي، خليل الله تصميم، مطيع الله محرابي او محمد سليمي

چاپ وار: لومړی

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۵ل / ۲۰۱۷ز

ډيزاين: سپين سهار

چاپخي: اسد دانش مطبعه- کابل / ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸

د چاپ حقوق له ليکوال سره خوندي دي




«وياړلي» په پښتو ژبه باندې د څه ليکونکو قلموالو يوه ډيره بدايه تذکره ده چې د پښتو ادب د لومړني لاسته راغلي اثر له شاعر (امير کروړ) نه را نيولې، بيا تر نن پورې د ډيری قلموالو لنډې پيژندنې په کې راوړل شوې دي.

کتاب په لسو ټوکونو کې خپور او په «PDF» بڼه انلاين شوی دی. د «تاند» ويبپاڼې له برکته د «وياړلي» د لس واړو ټوکونو د لينکونو نه په استفادې سره اوس د لس واړو ټوکونو «PDF» بڼه زه په خپل واک کې لرم. ما کتاب پرانست او د لومړي ټوک په پيل کې مې د ليکوال ښاغلي ډاکټر عبدالرؤف رفيقي اوږده مقدمه او د دويم ټوک په پيل کې مې د ښاغلي يون لنډې او له مفهومه ډکې خبرې ولوستلې.

ليکوال (ښاغلی ډاکټر عبدالرؤف رفيقي) په خپله اوږده مقدمه کې، په پښتو کې د تذکرو پر مخينې باندې د لنډې رڼا اچولو نه وروسته يادونه کوي چې:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په خير و لولئ

«ما یوې داسي مربوطي منبع ومنځ ته د راوړلو ضرورت احساساوه چي د زمان او مکان د قیده آزاده وي له پیله تر دې دمه کسان پکښي وي څکه مي دې کار ته لاس واچاوه...» (رفیقي ډاکټر عبدالروف، ویاړلي، لومړی ټوک، ۲۰۱۷ م کال، د لیکوال د سریزې نهم مخ)
ښاغلی رفیقي په خپلو لومړنیو خبرو کي وایي چي د دې لویې پروژې بشپړولو یې دیارلس کاله وخت لګولی دی. (د لیکوال د مقدمې دولسم مخ)

دا لس ټوکیزه تذکره په خپلو پاڼو کي په پښتو ژبه باندې له پیل نه تر نن پورې ټول هغه اشخاص رانغاړي چي په پښتو ژبه باندې یې څه لیکلي دي. ښاغلی یون د همدې اثر د دویم ټوک په پیل کي، په لنډ ډول پر کتاب او د کتاب پر محتویاتو باندې خبرې کړي. ښاغلي یون یادونه کړې ده چي:

«په دې اثر کي جغرافیایي، مذهبي، قومي، زماني، سیاسي او نور بریدونه د لیکوالوالو پېژندني ته د قید په توګه په پام کي نه دي نیول شوي. په دې مانا چي هر چا د نړۍ په هر ګوټ کي په پښتو ژبه څه لیکلي دي هغوی دلته په لنډیز سره پېژندل شوي دي...» (په دویم ټوک کي د ښاغلي یون مقدمه، ۵۶۵ ام مخ)

پر دې اثر ښاغلي مصطفی عمرزي یوه مقاله لیکلي ده او د هغي په ترڅ کي یې پر کتاب خبرې کړې دي. ما چي په تاند کي د ښاغلي عمرزي مقاله ولوستله، یوه شوم چي دا اثر د ډېرو ښېګڼو تر څنګ څه تېروتني او نیمګړتیاوي هم لري.

د مصطفی عمرزي په مقاله کي له راغلو خبرو داسي ښکاري چي د هغه بیوګرافي هم ناسمه راوړل شوې ده. د «ویاړلي» د شپږم ټوک په ۲۶۸۶ ام مخ کي، د مصطفی عمرزي تر نامه لاندې یوازې د یوه کتاب عکس او دا جمله لیکل شوې ده:

«آثار: افغانستان و بازار آزاد چاپ
ماخذ شخصي یادښت» (ویاړلي، شپږم ټوک، ۲۶۸۶ ام مخ)

په داسي حال کي چي تر اوسه د ښاغلي مصطفی عمرزي په سوونو مقالي او لسګونه کتابونه چاپ شوي دي. مصطفی عمرزي پرته له شکایت نه د کار د لا بشپړتیا په پار هیڅ نه دي ویلي او د خپلي مقالي په پای کي یې خپله بیوګرافي راوړې ده چي له یوې خوا لوستونکي پرې خبر شي او له بلې خوا ښاغلی لیکوال وکولای شي چي په راتلونکو چاپونو او یا په ضمیمو کي د تېروتنو تصحح ته پام وکړي.

مصطفی عمرزي د خپلي مقالي په یوه برخه کي داسي لیکلي دي:

«من به عنوان اولین افغانی که توفیق دسترسی به این کتاب را یافته ام، برای غنای هرچه بیشتر کتاب «ویاړلي» و سهولت های داکتر رفیقی به کارنامه ی اندیشمندان ما، تلخیصی از معرفی خودم را با منطق ستوده ی صاحب اثر که در آن محور تباری، اصل است، برای یک دست سازی و نیاز های ناشی از قدرت آن، تقدیم می کنم. در این تلخیص، جزییات بیشتری در خدمت همتباران و داکتر رفیقی قرار می گیرند. امیدوارم چاپ های بعدی، همسویی و همیاری فرهنگیان را در بر داشته باشد؛ یعنی با اخذ وظیفه از صاحب اثر «ویاړلي»، به افتخار شراکت بیشتر در اثری برسیم که به ذهینت فرهنگی بودن عامه ی تبار ما مربوط است.»

کله چي د دې تذکرې د دویم ټوک ۷۴۸ ام مخ کي ما (آصف بهاند) خپله بیوګرافي راواړوله، زما بیوګرافي ډېره ناسمه او نیمګړې راوړل شوې ده، په نېټو کي غلطۍ او ډېرې تیپي تېروتني. د «څوک چي اوښان ساتي، دروازې جګي جوړوي» د اصل له مخې؛ څوک چي دومره لویو څېړنیزو پروژو ته ملا تړي، باید په کره او سمو مالوماتو پسي ډېرې دروازې وټکوي. خواشیني په دې کي ده چي دومره لویه پروژه، دومره ډېره خواري او دومره لوی مصرف سره ولې دومرې لویې او ډېرې تېروتني شوې دي. تېروتني په هر کار کي وي خو دومره ډېرې تېروتني خو باید نه وای شوې.

بیا دې هم د ښاغلي ډاکتر عبدالروف رفیقي کور ودان وي چي په دومره لوړ کمیت لیکوالانو ته دې په دې نوښت سره لنډې یا اوږدې بیوګرافیاني یې تر یوه سرلیک لاندې راټولې کړې دي. زما هیله دا ده چي لیکوال د دې غنیمت اثر په بل چاپ کي تیروتني تصحیح کړي، نوي او سم مواد ورزیات او د اثر په غنا کي نورې هڅې هم وکړي، څو په راتلونکو کي د ډېرو پېښېدونکو تېروتنو مخنیوی وکړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زما تجربه داسي وايي چي ادبي تذکري او د «وياړلي» په څېر نور آثار ډېر مهم او د راتلونکو څېړنو له پاره د مالوماتو لومړني او بنسټيز مواد وړاندي کوي. بايد چي دا مالومات ډېر کره، د حساب وړ او سم وي. ښه فکر پرې وشي، د څو با تجربه څېړونکو او ليکوالو له نظره تېر، او بيا د استفادې له پاره وړاندي شي. که ناسم وي، په نورو څېړنو کي هم دا غلطي په تکرار سره را اخيستل کېږي، راتلونکو نسلونو او راتلونکو څېړنکو ته داسي ستونزي رامنځته کوي چي سمول او اصلاح کول يې بيخي ډېر وخت او مصرف غواړي.
په «وياړلي» اثر کي زما د بيوگرافي په برخه کي زه همدومره کولای شم چي د سؤتفاهم د مخنيوي په پار زه خپله لنډه بيوگرافي دلته خپره کړم، هيله ده چي د اثر ليکوال او د ده همکاران په بل چاپ کي له دې بيوگرافي نه گټه پورته کړي.

## د آصف بهاند لنډه بيوگرافي:

پوهندوی محمد آصف بهاند د محمد عمر زوی، د ۱۹۵۷م کال د دسمبر په ۲۳مه نيټه د کابل د چهاردهي په شکرالله خان نومي کلي کي زېږيدلی دی. لومړنی زده کړي يې د کابل د علاوالدين په تجربوي ښوونځي کي کړي دي، بيا يې د کابل په محمود طرزي ليسه کي خپلو زده کړو ته دوام ورکړ، خو دولسم ټولگی يې د ميدان ښار د نرخ په ليسه کي پای ته ورساوه.

د ۱۳۵۵ کال د حمل په مياشت کي يې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو په پوهنځي کي لوړې زده کړې پيل کړې او په ۱۳۵۸ کال يې د ليسانس سند تر لاسه کړ. له فراغت نه وروسته د کابل د روښان په دارالمعلمين کي د ښوونکي په توگه ومنل شو.

په ۱۳۶۰ کال په ژمي کي د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي په علمي کدر کي ومنل شو. په ۱۳۶۶ کال کي يې د استاد صديق روهي په لارښووني د ماسترۍ د تيزس دفاع وکړه.

آصف بهاند له ۱۳۵۶ کال راهيسي شعر وايي، نوی شعر ډېر ليکي، کله، کله يوه نيمه غزله او قصيده هم ليکي. په سل گونو علمي تحقيقي مقالي او شعرونه يې په هيواد کي دننه او له هيواد څخه د باندې په معتبرو علمي مجلو او بريښنايي خپرونو کي نشر شوي دي.

د هجري شمسي نيتي په شپيتمه لسيزه کي د څو کلونو له پاره د کابل پوهنتون د علمي مجلې (اجتماعي علوم) د مرستيالی دنده ورله غاړې وه.

دغه راز د هجري شمسي نيتي په شپيتمه لسيزه کي د اوږدې مودې له پاره د راديو افغانستان د روزني اداري د علمي پروگرام «موږ او اوريدونکي» ليکوال پاتي شوی دی.

آصف بهاند د افغانستان د ليکوالو ټولني د مرکزي شورا غړی و.

په هيواد کي دننه او له هيواد څخه د باندې يې په لسگونو علمي او فرهنگي سمينارونو کي گډون کړی، مقالي يې ورته ليکلي دي او په يادو سيميناررونو کي يې لوستي دي.

په ماسکو کي د اوږدې مودې له پاره د افغانستان د فرهنگ ټولني د منشيتوب او د يادې ټولني د ادبياتو د څانگي مسوليتونه ورله غاړې وو.

د سويډن په بيلابيلو ښارونو کي، د سويډن هيواد او په سويډن کي د ميشتو افغانانو د فرهنگي ټولنو له خوا د مورنی ژبي سيمينارونو ته بلل شوی او د يو لکچرست په صفت يې کارنده او فعاله برخه په کي اخيستي، مقالي يې ورته ليکلي دي او له سکنډنويايي هيوادونو څخه د مورنی ژبي له راغلو ښوونکو سره يې د مورنی ژبي پر ستونزو او په پردي چاپيرياِل کي د مورنی ژبي د زده کړې او ساتلو پر ستونزو او د حل پر لارو چارو غږېدلی، مشورې يې ورسره کړي او د سويډن په ستاکهولم، يوتيبوري او مالمو ښارونو کي يې گڼ لکچرونه وړاندي کړي دي.

آصف بهاند د خپل فرهنگي فعاليت په لړ کي دغه علمي کارونه تر سره کړي دي:

۱ ـ پښتو ادب له ۱۲۵۰ څخه تر۱۲۹۷ پوری (د ليسانس دوری مونوگراف)،

۲ ـ شعر د پښتو کلاسيکو شاعرانو له نظره (د پوهنيارۍ علمي رتبې ته د لوړيدو له پاره علمي اثر)،

۳ ـ د معاصر پښتو شعر شکل او مضمون (د پوهنملی علمي رتبې ته د لوړيدو له پاره علمي اثر)،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزی بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په څېر و لولئ

۴ ـ په پښتو شعر کې د انځور او تخییل مسأ له (د پوهندویۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۵ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، لومړی کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو ځانګو له پاره درسي کتاب (ګستـتـنر چاپ)،

۶ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دویم کتاب، د کابل پوهنتون نا پښتو ځانګو له پاره درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۷ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دریم کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو ځانګو درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۸ ـ د پښتو ادبیاتو د لرغوني دورې منظوم متون، د پښتو ځانګې درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۹ ـ د پښتو ادبیاتو د اوسنۍ دورې منظوم متون، د پښتوځانګې درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۱۰ ـ د خوشال د دستارنامې منتخبات، د پښتو ځانګې درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۱۱ ـ د کوچنیانو ادبیات، د چاپ او خپرونو د دولتي کومیټې له خوا په ۱۳۶۶ کال کې خپورشوی دی او دویمه درجه مطبوعاتي جایزه یې ګټلې ده،

۱۲ ـ مروره مځکه (د شعرونو ټولګه) ، په ۲۰۰۹ کال په کابل کې د دانش خپرندویې ټولنې له خوا خپره شوې ده،

۱۳ ـ لارورکي لارویان، لومړی ځل په ۱۳۹۱ کال کې چاپ شوی دی، مومند خپرندویې ټولنې خپور کړی دی او دویم ځل د ۲۰۱۷ کال په جولای کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۴ ـ د سمندر وږه بناپیرۍ، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، په ۲۰۱۸ کال په کابل کې چاپ شوی دی، مومند خپرندویې ټولنې په جلال آباد کې خپور کړی دی،

۱۵ ـ د سمندر وږه بناپیرۍ او نه (۹) نورې کیسې، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، د ۲۰۱۸ کال په جنوري کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۶ ـ لنډۍ او د ښتولو ستونزه، ، د ۲۰۱۸ کال په جون کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۷ ـ د کوچنیانو ادبیات،(د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر، اوسنۍ حالت) دویم ټوک، د دوه زره اوه لسم (۲۰۱۷) کال په اګست کې، په افغان جرمن آنلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی،

۱۸ ـ د باران سیوری (د شعرونو ټولګه)، ، د ۲۰۱۸ کال په اګست میاشت کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی ده،

**چاپ یا آنلاین کولو ته تیار:**

ـ د ژباړو یوه ټولګه،

ـ شعرونو یوه ټولګه،

ـ او درې عنوانه څیړنیز کتابونه.

پوهندوی آصف بهاند اوسمهال د ډنمارک په هیواد کې ژوند کوي او لکه پخوا په فرهنګي کارونو کې فعال دی، خپلو څیړنیزو او تخلیقي کارونو ته دوام ور کوي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ